مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۹/۰۹/۰۴

# څوک به مو غږ واوري؟

## (د کابل د نهمې حوزې په چاودنه کې د یوه ټپي کوچني غږ)



وطن مې بڼ مې کنډواله شو او زه کور پیدا کولای نه شم
پلار خو مې نه و، اوس مې مور پیدا کولای نه شم

چا مې د څه له پاره کور او کلی لوټه کړلو؟
ورونه مې ورک دي او زه خور پیدا کولای نه شم

موږه د کومې ګناه پیټی پر اوږو باندې وړو؟
خوار یم بېځواکه، ولې؟ زور پیدا کولای نه شم

خدای ورته ګوري او جزا یې قیامت ته پرېږدي
اور یم سېځلی، اوس مې لور پیدا کولای نه شم

جګړه اوږده شوه ښه اوږده، پای یې مالوم هم نه دی
اوږدوالی پرېږده، اوس یې سور پیدا کولای نه شم

۲۰۱۹/۰۹/۰۳
هېدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ